شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (٩٧٨) سال هژدهم شمارهٔ (٦٣) یکشنبه (٥) سنبله ١٣٧٤ هـ ش (٤) ربیع الثانی ١٤١٦ هـ ق (٢٧) اگست ١٩٩٥ م

قیمت (٢٠٠) افغانی (٢ روپیه)

برای رهایی از حمله غافلگرانه قوای امنیتی

حاجی ایوب افریدی باصد تن دیگر به افغانستان پناهنده شد

ننگرهار ٤ سنبله .

وکیل جرگه ولسی پاکستان وشخصیت مهم قبایلی ،حاجی محمدایوب افریدی بایك صد تن محافظین خویش پناهنده افغانستان گردید .

به نقل از خبر منتشره روز نامه جنگ ٢٦ اگست،حاجی ایوب درشهر جلال آباد با والی حاجی عبدالقدیر ملاقات نمود، در تفصیل خبرتذکرداده شده که حاجی ایوب افریدی ازحمله ناگهانی ممکنه قوای امنیتی خود راازخاك پاکستان کشیده طور عارضی پناهندگی درجلال آباد را اختیار نموده است .

براساس نوشته روزنامه جنگ ایوب افریدی نزد حکومت پاکستان متهم به قاچاق مواد مخدر میباشد.

دسنگانوولایت دروی دوآب په ولسوالی کی دنظارشوراپونامتوقوماندان :

له خپلو (٤٠٠) وسلوالوکسانو سره دحزب اسلامي له مجاهدینوسره یوځاي شو

سنگان دوی (٤)

دسنگانو ولایت کابل اداری ته وفاداروسلوال کسان اوس دکابل اداری دقدرت نه له ناوړو استفادو اوخپلسریو څخه په تنگ راغلی اوپر پل پسی دحزب اسلامی له مجاهدینوسره خپل پیوستون اعلانوی.

دسنگانو ولایت څخه دشهادت اداری ته په نوی رارسیدلو ریپوټونو کی ویل کیږی چی پرون دروان کال دروی دمیاشتی په (٣) مه نیټه دسنگانو ولایت دروی دوآب ولسوالی دقلعه سرخ په سیمه کی دنظارشورا عمومی قوماندان له خپلو ٤٠٠ وسله والو کسانو (١٥) میله آر - پی جی (٧) راکټونو، (٧) میله زیکاویك ماشیندارو ، (٢) میله (٧٢) میلی متری توپونو ، ٥ میله پیکاماشنگنو ، یو میل بی ایم (١) دستگاوو مخابرو لویو نظامی دپیوگانو سره دحزب اسلامی له مجاهدینو سره یو ځای اود نظارشوری په خلاف یی خپله وسله واله مبارزه اعلان کړه ،اودحزب اسلامی دقیادت دتگلاری معقولیت یی وستایه .

خاځي - د وږي ٤ مه :

دحزب اسلامي افغانستان امیرووروحکمتیار» وویل چې حزب اسلامي دافغانستان یولوي اوموثر جهادي قوت دي چې په هره ممکنه اومعقوله وسیله هڅه کوي چې زموږ دهېوادبحران

چاچي زمونږچوپتیاکمزوری گڼلی،اشتباه یي کړی،روانی پیښي په هیوادکي دښمنو لاسونو آغاز کیدای شي

حل شي ، په وطن کي مو سرله اوامنیت تأمین اودملت له خوښي سره سم منتخب اسلامي حکومت جوړشي .

ورور«حکمتیار» وویل چي یي له مذاکراتو اوتفاهم نه ،دوسلي اوجګړي په زور دافغانستان دقضایاووحل ممکن نه دي، په همدي وجه ده چي موږ په ټولو حالتونوکي دبحران په سوله ایز اواري

تینگارکړي او،حد . په مقر شیبوکي موږم دخپرواترو له لاري دکرکیچ دحل غوښتنه کړي ، چي په نظامي لحاظ په بشپړه توگه برلاسي وو، اوهېوڅي بري چانسونه موروبښانه وو.

ورور «حکمتیار» زیاته کړه چي ځینوکسانو دچهارآسیاب ترپرېښودو وروسته فکرکاوه چي گني نور حزب

اسلامي ... دي اودهیواد په پیښوکي بي دالغیزمن نقش دلوبولو چانس له منځه تللي دي، خوموږ همانغه وخت هم خپل قوم ته ویل اونن هم ورته وایو، چي حزب دافغانستان یوموثرجهادي طاقت دي چي هیڅکله به خپل ملت دیره پر اودهغوي دبي مسئولیته مزدورانو لوبوته پواځي پرینږدي ، بلکي په ټولو حالتونو کي به

به سکرتریکه عضو جمعیت است هیچ صلاحیت داده نشده است .

چشم دیدیك مهاجر افغان ازسفارت کبرای اداره کابل درانقره

پشاور ٢ سنبله .

یك مهاجر افغان که اخیراً ازانقره ترکیه بازگشته است به ارتباط چشم دیدازسفارت اداره کابل در انقره مطلبی برای روزنامه شهادت ارسال کرده، که نمایانگر بیماری وبی نظمی اداری وفکری دستگاه موجود درکابل می باشد.

این خواننده مینویسد : برخلاف سایرسفارت خانه ها و سایر دوایر رسمی ترکیه که درساعت معلوم ومنظم بکارآغاز میکنند مامورین سفارت پابند حاضری ونظم نیستند وهر وقت که میل شان شد به سفارت می آیند.

درنامه آمده است که سفیر ترکیه وکیل سید طاهرشاه یکی ازدوستان نزدیك به احمد شاه مسعود می باشد که هیچگونه سابقه جهادی ندارد . درتمام سفارت یك نفر به اسم حاجی روزی محمد عضو جمعیت اسلامی به حیث سکرتردوم می باشد که حتی صلاحیت یك مکتوب نوشتن راهوی نداده اند وتمام کارها را افراد رژیم سابق مینمایند.

قونسل سفارت شخصی به اسم محمد قاسم میباشد وپسرکاکای داکتر شمس است که قبلاً پست حساسی دروزارت خارجه نجیب داشت . مهاجرمذکورمینویسد که ازهمه غم انگیز تر اینکه یك دختربی حجاب ومینی ژوپ پوش افغانی دربن بسفارت مشغول کاراست وقرار یکه

(٤)مخ

به تعقیب بمباران طیارات اداره‌کابل برمناطق سرحدی پاکستان

اسلام آباد خواستارپرداخت غرامت ازاداره کابل شد

اسلام آباد - ٢ سنبله .

براساس گزارش آژانس های خبری روز چهارشنبه گذشته وزارت خارجه پاکستان انجنیر عبدالرحیم شارژدافیر سفارت اداره کابل در اسلام آباد را به وزارت خارجه احضار نمودهٔ وپیام احتجاجیه حکومت پاکستان را به وی تسلیم کرد.

دربن پیام گفته شده است که طیارات جنگی اداره کابل به حریم فضایی پاکستان داخل شده وبه قریه های سرحدی تری منگل بمبارې کرده است .

دربن احتجاج نامه آمده است : درصورت تکرار چنین حادثه مسئولیت عواقب آن به دوش اداره کابل خواهد بود .

وزارت خارجه پاکستان همچنان ازاداره کابل خواهان پرداخت خسارات وارده ناشی ازاین بمباری ها گردیده است .

براساس گزارش ، انجنیر عبدالرحیم گفته است که وی پیام احتجاجیه پاکستان رابه وزارت خارجه افغانستان اطلاع داده است. گز ارش ،بگری حاکیست،بینظیربوتو

ص (٣)

درولایت فراه وهلمند:

درگیری میان نیروهای اداره کابل وطالبان شدت گرفت

لشکرگاه، ٢ سنبله

جنگ در منطقه ول آرام وچندین نقاط دیگر در ولایت هلمند میان گروه طالبان وجنگجویان اداره کابل شدت گرفته است .

قرارگزارش منابع خبری از دو روز به اینطرف تعرضات نیروهای اداره کابل درچندین نقاط ولایت هلمند ودلارام ولایت فراه برمواضع گروه طالبان آغاز شده که درنتیجه نیروهای طالبان به مقاومت پرداخته وجنگ شدیدی میان این دوگروه همچنان ادامه دارد.

گرچه اداره کابل مدعی است که طی این نبردها پنجاه کیلومتر به طرف ولایت قندهار پیشروی نموده وبه نزدیکی گرشك رسیده است . اما گروه طالبان این خبراداره کابل را ردنموده وگفته است که هم

ص(٤)

دغزني ولایت دځینوقوماندانانو ترتطمیع وروسته :

کابل اداری پدی ولایت کی دجگړی دپیل کولو پریکړه کړی

غزني - دوږي ٤ مه :

دکابل اداري واکمن چي دهیواد په بیلابیلو سیموکي دجگړي اورته لمن وهي، اوس دغزني ولایت دیوشمیر قوماندانانو په تطمیع کولو اوددي ولایت ساحي ته دهغوي په لیرلوسره غواړي دغزني په ولایت کي هم جگړه پیل کړي .

دشهادت خبریال دیولړ باوري منابعوپه حواله ریپوټ ورکوي دکابل اداري پدي وروستیوکي دشیخ آصف دولي قوماندان واکترشاه جهان ، داکبري دولي مربوط قوماندان واثق ، دالحاد دتنظیم مربوط خلیل هوتك ، دمولوي صاحب

دریم مخ

دحزب اسلامي دننگرهار ولایت دولایتي شورا په وړاندیز :

په حزب کی دی احتسابی نظام فعال شي

ننگرهار :

دننگرهار ولایت ددعوت اوتنظیم دریاست اداره دتوموري تنظیم دمسئول محترم ورورسیدغلام صدیق پاچا په لاسلیك په یوه رالیږل شوي ریوټ کي لیکي چي دروان کال دزمري دمیاشتي په ١٨ مه نیټه دننگرهاردعوت تنظیم تر سرپرستي لاندي دتوموري ولایت په ولایتي دفترکي دحزب اسلامي دانسجام شورا غونډه وکړه .

خبرځاي لیکي پدي غونډه کي چي دننگرهار ولایت ټولنو ولسوالیو ناظمینوبرخه اخستي وه دقرآن عظیم الشان دڅومبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه . خبرځاي زیاتوي چي په پیل کي لومړي دهري ولسوالي ناظم دخپل کاریشیږریوټ دشورا غړو ته وړاندي کړ. پریکړه ټي وکړه چي په هره ولسوالي کي باید دحلقاتو دجوړولو کارتوزهم سریع اوپرمخ لاړشي .

خبرځاي زیاتوي چي همداراز دغونډي

دریم مخ

محترم خلیلي :

بخاطردفاع ازخواسته های مردم خود ، هیئت ایرانی راازیکاولنگ برگرداندیم

بامیان - ٤ سنبله :

وقتیکه هیئت آیت الله خامنه ئي از ایران حرکت میکرد دوستان به مااطلاع دادند ، ماقبلاً هم گفته بودیم دوباره تکرارکردیم که ماآماده مذاکره باهیئت هستیم ولي این هیئت از راه کابل نیاید .

این مطلب را محترم عبدالکریم خلیلي رهبر حزب وحدت اسلامي افغانستان در مصاحبه تیلفوني بارادیو بي بي سي بیان نمود . آقاي خلیلي افزود چون اداره کابل درطول سه سال گذشته بامادر جنگ بوده ولي متأسفانه هیئت بدون نظرمابا هلیکوپترهاي اداره کابل آمد، بااین کاري که هیئت کرد ماتصمیم گرفتیم که به خاطر دفاع ازخواسته هاي مردم خود این مذاکرات راپنذیریم و ازمرزیکاولنگ

ص(٤)

دپغمان ولسوالی شریفو خلکو دیوی غونډی په ترڅ کی :

دکابل ائتلافی واکمنو په خلاف یی یوپریکړه لیك خپورکړ

کابل - وږی ١٠

دکابل ولایت دپغمان ولسوالی څخه رارسیدلی ریپوټونه وایی چی دروان کال دزمری دمیاشتی په (٢٨) مه نیټه دپغمان ولسوالی مجاهدو اوشریفو خلکو دکابل دائتلافی واکدارانو په خلاف دتوموری ولسوالی په مرکز کی یوه دغونډه جوړه کړه .

خبرځای زیاتوی چی دغونډی په سرکی لومړی دقرآن عظیم الشان څومبارك آیتونه ولوستل شول اووروسته بیا دغونډیرخوالو یوپریل پسی ارزښتناکی وینناوی وکړی، او دخپلو وینناو په ترڅ کی ی دکابل اداری له ائتلافی واکمنو څخه خپله کرکه او نفرت څرګندکړاو هم یی دغونډی په وروستی برخه کی خپلی پریکړی پدی ډول اعلان کړی :

(٤)مخ

کابل اداري پاکستاني الوتکي ته دافغانستان له خاوري نه دتیریدو اجازه ورنکړه

دسنبلي ٤ :

کابل اداري دپاکستان دنړیوال هوایي شرکت یعني PIA هغي الوتکي ته چي دجمعي په ورځ یي غوښتل له پیښور نه دازبکستان پایتخت تاشکند ته دتلو په لارکي دافغانستان له هوایي قلمرونه تیره شي، داجازي له ورکولو نه ډډه کړي ده .

ریپوټونه وایي چي دغه (٧٣٧) بوینګ الوتکه په پسوه ځانګړي پروازد(١١٠) مسافرو په غوښتنه په فوق العاده پرواز روانه وه چي دکابل له خوا داجازي نه ورکولو په وجه په پیښورکي پاتي شوه.

دکابل اداري متقي څواب پاکستاني مقاماتوته پداسي وخت کي ورسیدو چي دټکټونوډپلورلو چاري سرته رسیدلي وي اوالوتکه پروازته چمتووه . کله چي مسافرو دپرواز له ممانعت نه خبرکړاي شول نودتصمیم په باب یي ژورغم اوغوسه څرګنده کړه . پاکستاني مقامات وایي چي دکابل اداري دي تصمیم دوي زیات حیران کړي په تیره چي داکارپداسي وخت کي کیږي چي کابل ته دپاکستان دبهرنیو چارو دوزیرده‌سفر وروسته فکرکیده چي داسلام آباد اوکابل ترمنځ به سوء تفاهمونه تریوه حده کم شوي وي .

باپرداخت پول به توطیه خاد سلاح ثقیله وتانگهای طالبان کباړمی شود :

یك جریان قوی برای متفرق ساختن طالب هاسرگرم عمل می باشد

پشاور ٣ سنبله .

دراطلاعات رسیده از مناطق مسلط به گروه طالبان آمده است که یك جریان قوي براي متفرق ساختن طالبان سرگرم عمل مي باشد . مطابق این خبر جریان مذکور میخواهد افراد خودرا ذهنیت بدهدکه گویا وظیفه طالبان بعداز بیرون رفتن حزب اسلامي ازچارآسیاب تمام شده ودرگیري بادولت فایده ندارد .

این گروه ها استدلال میکنند که هدف طالب هامخالفت با « اخوانیت » مي باشد وچون درحکومت کابل نسبت به حزب اسلامي انگیزه اخوانیت البته به تعبیر آنهاضعیف میباشد لذا باید طالبان فوراً بادولت یکجاشوند وضرباتي راکه ازشوراي نظار خورده اند نادیده بگیرند .

گفته میشودکه جریان مذکورجازه نمیدهد که درمساجد و یاخطابه ها کسی علیه شوراي نظار واداره کابل صحبت نماید. برخلاف همه تشویق میشوند تاعلیه حزب اسلامي تبلیغات نمایند وافراد حزب را مذمت نمایند .

همین جریان درصدد است که اداره امور طالبان رابدست بگیرد وبافرستادن مکاتب ونمونه امضا هاي شان به هرمحل ومنطقه جلو نفوذ سایرجریان هاي طالبان را مسدودنمایند .

ضمناً در میان طالبان زمزمه میشودکه همین جریان مسئول شکست هاي طالبان درجنوب غرب میباشند زیرا اطلاعات غلط تهیه میکنند ودرمواقع لازم ازانجام اقدامات موثر علیه قواي اسماعیل خان جلوگیري نموده اند .

گفته شده که جریان مذکور افراد رابعنوان واتهام حزبي بودن بطور بیرحمانه شکنجه ومعیوب میسازند .

دریك خبردیگرآمده است افراد وابسته بااین جریان به بهانه کمبود مصارف جبهه وبه دسیسه خاد سلاحهاي ثقیله طالبان را منفجر وکباړمیسازند .

برپایه همین اطلاعات اخیراً یك زنجیر تانك غول پیکرتوسط طالبان به افراد سیاف فروخته شده است .

طالبان درموضع وموقف خودتجدید نظرمی کند

کندهار - ٤ سنبله :

پیشروي نیروهاي اداره کابل در ولایات هلمند وفراه موجب نگراني گروه طالبان گردیده وسران این گروه بخاطر طرح ستراتیژي بعدي تشکیل جلسه دادند .

منابع بیطرف وآزاد گزارش میدهند انکشافات اخیر اوضاع بخصوص وضع نظامي درکشور طالبان را به ایجاد تغیر دراستراتیژي شان واداشته است .

گزارش مي افزاید اداره کابل مدعي است که درجریان دوسه روزگذشته شش ولسوالي درولایت هلمند ولایت فراه رابطورکامل ازتصرف طالبان آزاد کرده است .

درصورت صحت این ادعا اکنون شهرلشکرگاه مرکزهلمند و قندهارکه بزرگترین پایگاه طالبان بشمارمیباید هدف تعرض نیروهاي اواره کابل قرار میگیرد علاوه به آن دیروز شنبه درگیري هاي تازه میان طالبان واداره کابل درجبهات میدان شهرنیز آغاز گردیده است .

گروه طالبان اخیراً طیاره روسي را باهفت تن عمله آن در میدان هوایي کندهاربرزمین نشاندند که این امر موجب رسوایي بیشتر اداره کابل گردید .

تهاجم وحشیانه دشمن درلته بند وخاك جبارعقب زده شد

چندین پوسته وسنگرمستحکم دشمن فتح شد

سروبي - ٢ سنبله :

تعرض وحشیانهٔ نیروهاي اداره کابل دراستقامت ماهیپر، لته بندوخاك جبار عقب زده شد .

گزارشگرشهادت از ولسوالي سروبي گزارش میدهدبعدازفتح غند اتحاد اسلامي درجاجي بدست مردم منطقه ومجاهدین حزب اسلامي ، نیرو هاي اداره کابل به حملات ... سروبي دست زدند . گزارش مي افزاید مهاجمین درنخستین مراحل این تعرض وحشیانه نه تنها دست آوردي نداشتند بلکه بالمحمل تلفات و خسارات مالي وجاني چندین موضع وسنگرمستحکم خودرا نیز ازدست دادند . دشمن بااستفاده ازتمام امکانات ووسایل نظامي اش تلاش نمود باتعرض به استقامت ولسوالي سروبي، سقوط غند جاجي راکه یکي از مراکز اکمالاتي اداره کابل وهمچنان پایگاهي براي ایجاد فتنه ودرگیري هاي محلي بشمارمیرفت ، تلافي نماید اما هوشیاري وبیداري مجاهدین مستقر درسروبي این پلان شوم دشمن رانقش برآب ساخت .

ص(٤)

مسعود په قرغه کی دملاعزت پلویان بی وسلی کړی

دمسعود اوسیاف دپلویانو ترمنځ په جګړه کی (٤٠) کسه مړه اوګڼ شمیرژوبل شول

پغمان -وږی (٤)

دکابل ولایت دپغمان ولسوالی څخه ائتلافی اداری ته نژدی یو باوری منبع خبر راکوی چی څو ورځی وړاندی دمسعود دنظار شورا پلویانو په پغمان ولسوالی کی سیاف ته دوفادار قوماندان شیرعلم د پلویانو په بی وسلی کولو لاس پوری کړ چی په سیمه کی دنظارشورا دپلویانو دااقدام په یوه خونړی جګړه بدل اوله دواړوخواوو څخه په لس ګونو کسان مړه اوژوبل شول.

خبرځای لیکی چی پدی خونړی جګړه کی چی تقریبا یوه ورځ یی دوام وکړدنظارشورا (٤٠) کسه مړی دجګړی په میدان پرېځای پاتی شوی اونوریاتی

(٤)مخ

سرمقاله

شایعه اخراج مهاجرین ازشهرهابی اساس است
مخالفین مهاجرین افغان درپاکستان، بدرجه اول با خودپاکستان مخالفت ودشمنی دارند

ازچندی به اینسودربعضی از روزنامه ها ونشرات پاکستانی ، مطالبی اضافه شده وبه ارتباط افواهات اخراج مهاجرین ازشهرهاوخصوصاازشهرپشاور، مسائلی مطرح میشود.

این سلسلهٔ اخباروقتی تحت غور وبررسی قرارمیگیرد ، محل صدورمشخص ندارد وحرفهای که صحت وسقم آن برای خواننده معلوم نیست ، روی اخبار ریخته میشود. روز۲۴ اگست روزنامه جنگ راولپندی این بازی راتاحدی جدی کرد ودریك عنوان درشت وازقول منابعی بازهم مجهول ونامعلوم ! تبصره کرد که وجود ۳۵ هزار مهاجرافغان دراسلام آباد ثبات وامنیت پایتخت پاکستان راباخطرجدي مواجه ساخته است، جالب اینکه اخبار جنگ پاراجلوترگذاشته والزام وارد نموده است که گویا اکثرمهاجرین مقیم اسلام آباد، کمونست هاي سابق وافراد وابسته به دستگاه جاسوسي خادمیباشند. البته الزام تراشي درمطبوعات پاک ! که متاسفانه دربسیارموارد پابندهیچگونه موازیني نیستند، چندان محل تشویش نمیباشد وازطرفي انتقاد واعتراض از حضورمهاجرین درپاکستان ، بیکي دوسال اخیرنیزمنحصر نمیشود .

این اعتراضات تقریباً ازهمان سالهاي ۱۳۵۷ وحتي قبل ازآن همیش رایج بوده وباافزایش دامنه جهاد وانقلاب اسلامي ،میزان انتقادها نیز افزایش یافته است .

اماچیزیکه اکنون میتواند جاي پرسش باشد این است که چراپس ازخفیف شدن جریان اعتراض علیه حضورمهاجرین که ظرف این سه سال شاهد آن بودیم ، این قضیه بازدرمطبوعات پاکستان اوج گرفته ، درحالیکه محیط هجرت بیش ازهرزمان دیگر ازنظر فعالیتهاي خرابکارانه ، مثل بم گذاري وتظاهرات بسیارآرام میباشد . اوج اعتراض ازحضورمهاجرین درگذشته تحت رهبري بعضي گروهاي متمایل به چپ پاکستان صورت میگرفت .؟این گروهها ازیکطرف خرابکاري وبم گذاري میکردند وازطرف دیگرهربم گذاري رابهانه قرارداده وباراه انداختن راهپیمایي ها وتظاهرات ودادن کنفرانس هاواعلامیه هاي مطبوعاتي ، پایان هرچه زودتر حضور مهاجرین ومجاهدین را ازپاکستان خواستارمیشدند . پشتیبان جریان اعتراض ازحضور مهاجرین درپاکستان ، دستگاه (کي ، جي ، بي) بود ولي حالاکه دستگاه جاسوسي روس به آن آب وتاب وآن مقاصد گذشته نیست ،کدام دستگاه وکدام قدرت جریان اعتراض از حضورمهاجرین رادامن میزند، ودرمقطع کنوني ایـن حرفها چه مرام وکدام مقصدي رادنبال میکند!

اگربگویندکه درگذشته اشغال افغانستان توسط یك نیروي خارجي ویابخاطر وجود یك حکومت وابسته ودست نشانده ، ضرورت وجودمهاجرین افغان را درپاکستان توجیه میکرد ولذا امروز که این اقتضا منتفي شده وجود مهاجرین دیگر درپاکستان اضافي میباشد. اینکه دلیل شده نمیتواند، زیراقضیه افغانستان که ا زمداخله روس منشاگرفت، تاحال حل وفصل نشده ودرثاني امنیت وثبات وشرایط مناسب وعادي امرار معاش درکشوربرقرارنگردیده است .

این راهم میدانیم که درگذشته تبلیغات منفي علیه مهاجرین بخاطر خراب کردن شیرازه جهادبود. روسها میخواستند ازاین طریق جبهات جهادرابي پشتوانه وفلج نمایند ولي توجه باید داشت که مقاصد کنوني نزد مخـالفین مهاجـرین نظربه مقاصد گذشته، خطرناکتر ومرموزترمیباشد.

بدون تردید، هیچ توجیه منطقي ومدللي که بتوان بروبت آن جریان اعتراض ازحضورمهاجرین رادرشرایط کنوني ریشه یابي کرد وجودندارد جزیك مقصد قوي وآن اینکه استکبار براي جلوگیري ازتشکیل یك افغانستان اسلامي وقوي، دوامدارشدن جنگ داخلي وبراي دوام حالت بي ثباتي واضطراردرافغانستان، جریان اعتراض ازحضور مهاجرین راتائید وتقویت مینماید .

تلاشهاي متعددي که تاحال براي منزوي ساختن خط بنیادگرایي جهاد ودر راس حزب اسلامي که بیشتر محل توجه وخارچشم استکبار است ، صورت گرفته ونتیجه نداده به اثبات میرساندکه تبلیغات فعلي برخي حلقه هاي مطبوعاتي درپاکستان ، دنباله همین کوشش هاي ناکام میباشد . اگر امروزه ك ، ج ، ب ، به آن قوت خودنیست سازمان جاسوسي « راو » ودیگرحلقه هاي استکباري هنوز حیات دارند وبدون شك همین جریاني که باحضور مهاجرین درپاکستان مخالفت میکند بدرجه اول دشمن بقا ، سلامت وامنیت پاکستان میباشد .

حقیقت این است که منافع پاکستان وافغانستان امروز باهم گره خورده است . کسانیکه میخواهند بخاطر منافع یك پاکستان منهاي مجاهدین ومهاجرین افغان قیافه گیري وعرصه آرایي نمایند اینها درواقع دشمنان مرموز ومارد رآستین کشوربرادر پاکستان مي باشند .

حضورمهاجرین درپاکستان بروي یك هدف مقدس ویك هدف عالي وخیلي بزرگ ... شده وباتکمیل یك هدف عالي ومقدس دیگر، پاتین میگیرد

دعوت ماازمطبوعات مسئول ومتعهد پاکستان وازحکومت پاکستان این است که باهوشیاري تمام متوجه دست هاوحرکاتي باشندکه براي حدشه دارساختن علائق مهاجرین ومردم پاکستان سرگرم عمل اند وبراي اذیت وآزارودرنتیجه براي اخراج مهاجرین مقدمه چیني مینمایند . اطمینان کامل وجود داردکه این دستها هرگز بمقاصد شوم شان کامیاب نمیشوند ... آنها درپیشگاه مردم پاکستان روز تاروزافشامیگردد .

وخت له طالبانوڅه غواړي ؟

هـ ، هجرت

که دطالبانو مشران دامني که نه ، خونور څوك پکې هیڅ شك نه کوي چې که طالبان ترمیدان ښارووړسته داحمدشاه مسعود اواستاد سیاف دتوطیې ښکارشوي نه واي، اوس به دهیواد وضعه بدله وه ، اودبحران دحل په برخه کې به اساسي گامونه پورته شوي وو .

کله چې طالبان غزني تـه ورسیدل، نواستادرباني اواستادسیاف د خپلو قبلي روابطو له مخې توقع درلودله چې طالبان به ورسره زیات تفاهم وکړي اوله دوي سره به خپل پروگرامونه هماهنگ کړي .

کله چې له غزني نه دحزب اسلامي قطعات دوردگودشنیزه‌وري ورووستي برخې نه په شاشول، له کابل نه غزني ته یوهیئات ورغی ، هیئات چې بیرته کابل ته ستون شو، نوده«دولت عالي شوري» ته یې رپوټ داوچې « طالبان له دولت سره په هیڅ توگه نه یوځاي کیږي اوقدرت له اخیستویه راکم شي نه قانع کیږي » .

مسعود غوښتل، هرڅومره چې ممکن وي لومړي له طالبانو نه دحزب پرخلاف استفاده وکړي اوچې کله يې دده په لوري مخه کړه ، بیا ورسره په مقابله لاس پوري کړي . «میدان ښارته» دطالبانوتر رسیدو وروسته داسې فکرکیده چې طالبان به نوردحزب پرخلاف له عمل کولو ډډه وکړي اوخپله ټوله توجه به دکابل نیولو ته وگرځوي .

دکابل په جنوب اوختیزکې دحزب اسلامي دقوتونو پاتې کیدو دنظارشوري اوائتلاف په سقوط کې دیوه مهم عامل نقش ترسره کولاي شواي .

مگرطالبانودامهمه موقع درك نکړاي شواي ، اوفرصت يې ضايع کړ .داداسې وخت و چې احمدشاه مسعود د خپل مکارانه مزاج له مخې دجنرال حمیدگل اوسودان دسفیر ابراهیم په منځگړیتوب په جلال آباد کې له حزب اسلامي سره خبرې رواني کړي وي.

دحزب قیادت دیرژر پوه شوچې خبرې اتري یوه دوکه ده اوترشاني ناوړه نیتونه پراته دي ، په همدي وجه یې دحزب استاخیوته وویل چې مذاکرات ختم کړي اوله جلال آباد نه پاپېښورته ولاړشي اویاچهارآسیاب ته راشي .

خودجنرال حمیدگل په ټینگار اوغوښتنه خبرې اترې یوڅه اوږدي شوې ، مسعود له موقع استفاده وکړه اویه هلیکوپترکې میدان ته طالبانونه ورغی ، هغوي ته یې په دروغجنو مسوده وروښکاره کړه چې « دادي حزب اسلامي له موږ سره ستاسې پرخلاف اتحاد کړي اوله موږنه غواړي چې ستاسې پرضد ورسره گډعمل وکړو » .« خوزه به په هیڅ توگه ستاسې پرخلاف عمل ونکړم، تاسې مابوطالب وگڼئ، خوبوه غوښتنه مې درڅخه داده ،چې تردې مخکې چې زه درته کابل وسپارم ، باید حزب اسلامي له کابل څخه دومره په شاکړاي شي چې بیا کابل تهدیدنکړاي شي اوتاسې په داوه زړه کابل ته راننوځئ .اویه تاسې باندې زموږ ترخه تجربه تکرارنشي، چې کابل ته ننوتلو، خو هره لحظه د«حکمتیار» دگولیو ترگوابش لاندې یو چې کله هم حزب اسلامي له کابل نه په شاشو، زه به دکابل دروازي ته له گلانوسره ستاسې ښه راغلاست ته راځم اوټول قطعات به مې وسله درته په مخکې پدي . که تاسې غواړئ، زه به اوس هم درته کابل وسپارم خو چې له حکمتیارنه ځان بې غمه نکړي په کابل حکومت نشي کولای . »

دچهارآسیاب په لوري به دطالبانو دحرکت ترشانوري انگیزي اوسیبونه هم وو، خودمسعود یادشوي مانور مهم نقش ولوباوه .

ددي نتیجه داشوه چې حزب اسلامي یه لوگراوچهارآسیاب کې مقاومت له کابل نه ددفاع جگړه وبلله اوخپل قوتونه يې سروبي ته په شاکړل او طالبان دکابل په دروازه کې ودریدل .

طالبان به خامخا دمسعود دوعدو دعملي کیدو په طمع وو، هغوي کابل نیول شوي گاڼه اویه دي خبرویوري به يې خندل چې په کابل کې به له مقاومت سره مخامخ کیږي . خومسعوددیوه نظامي سرې په توگه له ځان سره هم په ټولو هغومحاسبوپوري خندل چې گڼي طالبان به کابل نیسي اوهم يې دطالبانو پرهغه سادگي او خوش فهمي پوري خندل چې گویا مسعود به ورته کابل بې چون وچرا سپاري .

هغه وخت چې حزب له چهارآسیاب نه ووت ، دافکرعام شوچې کله دحزب غوندې لوي قوت په دومره چټکتیا له طالبانونه په شاشو، نوریه دطالبانوپه وړاندې نظارشوري څه دول مقاومت وکړي . استاد«رباني » ،استاد«سیاف » اودمسعود نورملگري هم زیات وارخطا وو اومقاومت يې بیځایه باله . خو مسعود پوهیده چې حزب د«خپلې نظامي کمزوري» اودطالبانو دپوځې طاقت په وجه نه و په شاشوي، بلکې نوربیلابیل عوامل ووچې په نتیجه کې يې حزب دعقبنشیني لارغوره کړه ، دمسعود دالتحلیل هغه وخت زیات پوخ شوچې کله يې په میدان کې طالبان ولیدل، اوله نژدې يې دهغوي ځواك مشاهده کړ اودهغوي طرحې او تحلیلونه يې واوریدل .

هغه چې څنگه کابل ته ورسید استاد «رباني » او استاد «سیاف » ته يې وویل چې دطالبانو مقابلې ته هیڅ تشویش مه کوئ یواځې یوکار وکړئ اوهغه داچې دمذاکراتو له لارې یوڅه وخت ترلاسه کړئ، چې په دې موده کې زه دنظامي کارلپاره ښه فرصت ومومم .

همداسې وشول ، طالبان يې یوڅه وخت تیرایستل اوبیايي دکابل دروازې ته استقبال ته راغي خودگلانوله امیلونوسره نه، دالوتکو، ټانکونو اوهلیکوپترو له سیلونو اوکتاروتو سره . طالبان یې په ویتوکي ولپول ، سیمې يې ترې وتیوې ،دمزدوري ملیشې په نامه یې وتکول ، کمونستان يې وگټل اود«فتحي » او«غلبې» هنگامه يې ورخرابه کړه .

له دې خبرونه زموږ مقصد دادي چې دطالبانوهماغه فرصت ضایع کولو هم دوي ته ، هم زموږ ولس ته بده نتیجه راوړه ، جگړه يې تونده کړه، بحران يې پیچلی کړ. نظارشوري چې زموږدولس دبدمرغه وضعې لوي عامل دی .يې تریخواپیاوړي کړه اویه خپله طالبانونه يې لویه ضربه ورکړه اوس چې یوځل بیا په هیوادکې دیوه بدلون راتلولپاره دزمینې دمساعدیدوچانس تیني ترسترگوکیږي ، دهیواد په بیلابیلو برخوکې نظامي حرکتونه شروع شوي، اودکابل اداره په یوه انفعالي حالت کې واقع شوي، دي ته شدیده ارتیاده چې دافعالیتونه سره هماهنگ شي. یوهدف ورکړل شي اودبحران دحل لپاره له یوه سالم سیاسي مانور سره ملگري شي .

که داچاره وشي ان شاء الله دبحران دحل په برخه کې دیوه لوي اواساسي گام دپورته کیدو دزمینې دبرابر بنت احتمال ویرڅرگندي .

په همدي بناء«وخت » تقاضا اودملت ارزوله طالبانو څخه داده چې دولس اوهیواد دژغورني لپاره دي موضوع ته جدي توجه وکړي اود«یواځې پرواز» دتگلاري پرځاې دگډحرکت روش غوره وگڼي.

آیاجهادي تنظیمونه داسلام اوملت پرخلاف واقع شوي نه دي ؟

لتون

په تیریسی :

۳ -آیا جهادي تنظیمونه داسلام اوملت پرخلاف واقع شوي نه دي ؟

دکورنیو اوبهرنیو هیئتونودسولې هلې ځلې اودپراووریه باب دخپل دریځ نه حرگندول :

هغه څه چې زموږ دهیواد کورنۍ جگړه یې تردې وخته اوځایه راورسوله ، چې اوس یې دحل له پاره ټول ځواخوږي موده کې زموږ دمظلوم ملت دهجرت اوجهاد دوخونو پالل شوي هیلې په نهیلي اوناامیدي بدلې کړې، هغه دسولگرندو دیراو دوپه باب چوپه خوله پاتې کیدل وو اودي .

آیا دافغان جهاد خواخوږو داخبره درك کړي نه وه چې کله د(۱۳۷۱) کال دغوږي دمباشتي په پنځمه نیټه مجاهدین دکابل ښارته ننوتل، دهغوي پرخلاف دچاله خوا جگړه پیل شوه اوددغې جگړې دپیل کیدوعوامل دجهادي تنظیمونو خپلمنځي کشمکش و اوکه ترشايي کومې بلې توطئې کارکاوه ؟

آیا په همدي وخت کې دپېښور معاهده چې دکمونستي رژیم نه پکې حضرت صاحب ته دواك اخیستني له پاره دوه میاشتې اواستادرباني ته څلور میاشتې موده ټاکل شوې وه ، یوه څرگنده توطئه اودکمونستانو دبقاله پاره په نړیواله سویه مطرح شوې نه وه ؟

آیا دنورو ولایاتوپه څیرمجاهدینوته دکابل دښاردننولو ځواکونو تسلیمدل گټوروو اوکه دکمونست رژیم دبقاپاځواکونوسره، دگډ حکومت جوړول گټوروو؟

آباد پېښور معاهدي له مخې دټولو جهادي مشرانو کابل تـه تلل او له کمونستانونه پرته لـه محاسبي واك اخیستل گټوروو اوکه دټولـو دولتي ارگانونو مجاهدینوته سپارل کیدل گټوروو ؟

همدا ډول لـه یوه کال [illegible] ۱۳۷۲ [illegible] داسلام اباد معاهده چاماته کړه ؟

ددغې معاهدې تضمین کوونکیو هیوادوولي له مخالفت کوونکي لوري سره خپل روابط قطع نه کړل ؟ اوولي په هغوددریوتضمین کوونکیو هیوادو (پاکستان ، ایران اوسعودي عربستان) کې یوه هم پرجنگوالو دلوډپراووغږونه کړ، په داسې حال کې چې دخپل سیمه ایزسیاست دایجاب له مخې یې هغه څه وکړل، چې نه یوازې زموږ په ملت کې یې دکرکې اونفرت څپه لایسې تونده کړه ، بلکې خپل بین الاسلامي حیثیت ته یې هم سخت زیان ورساوه .

ددې ترڅنگ زمـونږ هغه گاونډي هیوادونه چې له افغان جهادسره یې خواخوږي لرله ، دخپل پریکنده دریځ دنه لرلوله امله یې افغان ولس پرڅان یې باوره کړاوان تردې چې خپلې لوریو دجگړې ددوام دعاملینوپه توگه هم یادکړل .

ددې ترڅنگ چې دملگرو ملتو دعمومي منشي خانگړي استازي اوداسلامي کانفرانس نماینده اودکلورو اسلامي هیوادو دعلماؤ دسولې هیئتونو د مصلحینو په حیث افغانستان ته کوم سفرونه وکړل او کوم یې دهغوي طرحې چاله ناکامي سره مخامخ کړي اوبیا یې دپلویتوب تورونه ولې اوله کومې لوري ولگول شول ؟ همدا ډول دمصلحینو بیلابیلو طرحواونظریو هم افغان مظلوم ملت له ځان سره حیران کړي دي، ځکه چې په دې تیرودري تیموکلوکي چې څومره دسولې هیئتونه میدان ته راغلي دي هریوه یې یاله ځان سـره جلاجلا طرحه راوړې ده اوبیایې لـه یوڅوملاقاتونو وروسته خپل ماموریت یې له کومې نتیجې پاې ته رسولي دي اوافغان مظلوم ملت یې هماغسې دجنگ په لمبو اودحق اوباطل دنه څرگندیدو له امله په تورو تیاروکې پریښي دي .

په دې باب چې کوم سترمسوولیت چاته متوجه کیږي هغه له اوسنۍ جگړې په نسبي توگه بهرپاتي دجهادي گوندونومشران دي، دغوبناغلیو په خپل گومان دبې طرفۍ سیاست غوره کړي اوویلي یې دي چې موږ دهیچالوري هم نه یسو، خوکه پوښتنه تري وشي چې آیاټول ملت دجگړې دهمدغو دوو لوریو ترمنځ ویشل شوي ، نویه خوراخفرده لهجه به درته ووایې چې ټول ملت دهغه ترشا ولاړدي اودجگړې له لوریو سره یوڅوتویك والا پاته دي اوبس .

اوکه بیاتري پوښتنه وکړي چې محترما ! دامنم چې ټول ملت ستاسې ملاترکوي ، نویه دي اوسنۍ جگړه کې خوپرتویك والاو سریېره سترمسترزیانونه ملت ته متوجه دي، ځکه هیواد لاپسې ویجاړیږي ، دملت شتمني په پرله پسې توگه له منځه ځي دملت بچي وژل کیږي، زخمیان کیږي ، مهاجرکیږي ، اوحتی دځوارلس کلن مقدس جهاد قرباني اوویاړونې له خاورو سره خاوري کیږي . نوبیا ولې دخپل مظلوم ملت دخلاصون له پاره نه پورته کیږي . ښایي ددغوبناغلیو ځواب همداوي چې دیرموږورته ووېل، یوېي هم نه منې، پریږده چې بنه یې سره ووهي .

حال داچې ددغودرندو څیرو مسئوولیت په دې نه ټامیږي،اسلام موږته دبې طرفۍ اوناپېیلتوب درس نه راکوي ،بلکې نبوي حدیث دي، چې « له خپل ورور سره مرسته وکړي که ظالم وي اوکه مظلوم » که په تیرو دري تیموکلوکې زموږ دغوږې طرفو جهادي مشرانو پرپورتنی حدیث دڅره له اخلاصه عمل کړی وای، بې له شکه چې اوس به جگړې په مکمل ډول پای ته رسیدلې وای، دهجرت ، جهاد اومیلیونې قربانیو ثمره به مو دضایع کیدو تریږده ته رسیدله .

نه یوازې داچې دغوبناغلیو دظالم لاسونه له ظلم نه منعه نه کړل اونه یې له مظلوم سره مرسته وکړه ، بلکې دیوه حق ویو نکې مسلمان په څیرمسوولیت یې هم ادانه کړاي شواوهغه داچې ملت ته یې ویلي واي، چې دجگړې یولوري په حقه اوبایډ ملاتړیې وکړي اوبل یې په ناروا پوري نښتي باید پرخلاف یې راپورته شي .بلکې هغوي دداړولوریو ترمنځ خپل روابط وساتل چې گوندي ددواړو په خوښه به ددریم گرې په حیث رامنځته شي اومیدان به فتحه کړي .

لـه همدي امله دسولې محترمو هیئتونوکه مستقیماً په جگړه کې برخه اخیستي نـه ده ، نودجگړي دبندیدو په جهت کې هم ترې څه شوي نه دي. اوهمدا علت دی چې په گانده کې به دغه بناغلي هم دجگړالو دلو سره په یوه صف کې دریږي . او دجهاد له اهدافو سره دزیاتې پوهنې به تري کیږي اوکه نورهیڅ نه وي نودانقلاب مورخ خوبه یې هیڅکله هم ونه بخښي .

٤- بهرنۍ لاسوهنې اوددوستو هیوادو دسیاسي دریځ بدلون :

که دقامونو عروج اوزوال دڅرې په تاریخ کې مطالعه کوو، نو ویه ویننو، چې نړیوال تمدنونه دقامونو داتحاد اواتفاق له امله منځته راغلي دي، که څه هم دیوه تمدن په منځته راتگ کې نورډیر عوامل هم لاس لري، خوسترعامل یې دهغه قوم اوملت ترمنځ اتحاد اواتفاق وي. اوهمدا ډول کله چې دڅرې په سترو سترو تمدنونو کې دنفاق طاعون خپور شوي ، بیا نو هغوقومونو خپل عروج ساتلي نه دي اوله همدي امله ورته ددښمنانو ځولې دحرص نه ډیرو ډکې شوي اوخپل شوم لاسونه یې دهغه قوم او ملت په منځ کې فعال کړي اوبالاخره یې خپل دموډومودو اهداف ترلاسه کړي دي .

له دې نه هیڅوك انکارنه شي کولاي چې دڅرې دیوه سترمادي ځواك سیاسي نظریه دافغانستان دمؤمن ملت دقربانیو په نتیجه کې ناکامه شوه اوداهم یوحقیقت دي چې دافغان جهاد له برکته دڅرې مستضعف ملتونه دخپلو آزادیو دترلاسه کولو له پاره راپورته شول اواسلامي نهضت دافغان جهاد له بریالیتوب سره یونوي روح پیداکړ

نوربیا

آیا دزرگونو افغانانو له ژوندنه داووتنو روسي پیلوټانو ژوند زیات مهم دی ؟

لیك عبید "صافی "

تیره شپه په ماسکو کې د بې بې سي خبریال داود جنبش پخپل رپوټ کې دهلمند په گرشك ښارباندي دکابل دائتلافي اداری ځواکونو دبرید په باب دویل چې روسي لوړ رتبه ماموران وایي دکابل اداري ځواکونو دا حمله دماسکو له غوښتنې سره سم پیل کړې ترڅوله طالبانو نه بارورونکي جهاز او (۷) تنه پیلوټان اوانجنیران خوشې کړي چې څو اونۍ مخکې طالبانو یرغمل نیولي و، پدې جهاز کې دکابل ائتلافي اداري له پاره نظامي مواد بارو او غوښتل یې چې دکابل په هوايي میدان کې کښته شي ، لیکن طالبانوداالوتکه دخپل جبت الوتکو په ذریعه دقندهار له هوايي کرښې نه کښته او دنوموړي ښار په هوايي میدان کې کښېنوله . له همغې ورځې نه ټولې دنیا ته لکه د لمر په شان ثابته شوه چې روسان په افغانستان کې اوس هم عملاً مداخلت کوي او دریاني ناروا حکومت دماسکو دلاس آله گرځیدلې دی . دغې پېښې روسي واکمنو اودکابل اداري حکمرانانو له پاره دشرم اورسوایي بودانسې داغ جوړکړ چې دواړه لوري یې دطالبانو په خلاف دکلك اقدام کولو له پاره گډه فیصله وکړه . روسي اوکابل واکدارانو په مستقیمه توگه دطالبانو دغه عمل یوترورېستي عمل وباله اوغوښتنه یې وکړه چې الوتکه اودهغه عمله باید ژر تر ژره خوشې شي خو طالبانو غوښتنه وکړه چې دهغو زرگونو ورکو او بې درکو افغانانو پته اومعلومات باید موږ ته راکړی شي چې دکمونست انقلاب په وخت کې له افغانستان نه روس ته وړل شویدي خو روسانو دطالبانو دغې جايزې غوښتنې ته هیڅ پاملرنه ونکړه او وې ویل چې روس ددغه توان نلري چې دبې درکو افغانانو معلومات راغونډ کړي ځکه چې دغه افغانان دروس هغو پخوانیو ریاستونو کې تیت اوپرك دي چې اوس اوس یې له روس نه آزادي ترلاسه کړیده . دروسانو دغه منطق بالکل بې ځایه اود منلو وړ نه دی ځکه چې په هغوریاستونو باندي دروس اوس هم زیات اثر اورسوخ دی او دکامن ویلث په نامه یې یوه اتحادیه هم جوړه کړیده چې روسان یې همیشه دخپلې گټې له پاره استعمالوي . دطالبانو دغه غوښتنه دگرد افغانستان دزړونو ترجماني ده اوهرافغان همدا غواړي چې روسان باید دهغوی دخپلو خپلوانو دژوند اومرگ په باب بشپړ معلومات ورکړي ترڅو پرېشانو زړونو ته څه اطمینان په نصیب شي په کار خوداو چې دریاني اداري واکمنو دطالبانوله دغې روا اوبرحقې غوښتنې سره آواز یوځای کړي وای ځکه چې طالبانو دځان له پاره نه بلکې "دافغانستان دمسلمان ملت دهغو بې گناه خلکو په باب دمعلوماتو غوښتنه کړې ده چې یواځې اویواځې داسلام اودافغانستان دآزادي په گناه اوجرم نیول شوي او دهغه وخت روس په مختلفو ریاستونو په زندانونکې شپې ورځې سباکوي .لیکن له بده مرغه رباني دخپل مسلمان ملت له وگړونه زیاته همدردي له روسانو سره لري دزرگونو لادرکوافغانانو سرنوشت ورته دومره مهم نه ښکاري خومره چې د اووتنو روسي پیلوټانو ورته مهم دي اوس ددغو اووتنو روسي پیلوټانو دخلاصولو په خاطر دزرگونو افغانانو دوژلو پسې ملاترلې او پرطالبانو پرله پسې حملې کوي ترڅو د زرگونو بې گناه افغانانو دوینو په بدل کې روسي پیلوټان خلاص اود روس په وړاندې خپله وفاداري نوره هم پسخه کړي ، که څه هم ځینې روسي لوړرتبه مامورین اندېښنه ښکاره کوي چې کیدای شي پرطالبانو دتش په نامه دولتي ځواکونو دبرید په ترځ کې روسي پیلوټان ووژل شي اوروسان هغه څه ترلاسه نکړي چې څه غواړي خو دکابل اداري واکمنان د روسانو دخوشحالولو اودخپل وفاداري دپخولوپه خاطر دغه کار ته زیات ترجیح ورکوي ترڅو ورویښايي چې هغوي ته دافغانستان دمسلمانانو وگړو له ژوند نه دروسانو ژوند زیات قدر اوقیمت لري.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې دروس اوهند مداخله یو روښان واقعیت دی اودکابل غیرقانوني اداره هم په بشپړه توگه دجهاد اوقربانۍ له اصلي لیکې نه منحرفه شوې اودعجیب له گوداگي حکومت نه زیات گوداگي شویدی نو ټولو جهادي مشرانو ، قومانداناتو سپین پیرو علماو ، پوهانو اولیکوالانو ته پکاردی چې په خپل موقف له نوي سره غوروکړی او دکابل غیر اسلامي گوداگي واکمناتو په خلاف یوځلي بیا خپل اسلامي مسؤلیت ته متوجه شي ځکه چې دافغانستان مسلمان ملت چې دکوم اوچت مقصد له پاره خپل سرونه قربان کړي وو دکابل ناروا واکداران یې تر پښو لاندې کوي اویوځلي بیا دافغانستان گران هیواد دروسانو په لمنه کې اچوي .ددې له پاره چې د لکونو سرونو دقربانیو په نتیجه کې آزاد شوی افغانستان بیا دروسانو سیاسي اوعسکري میدان ونگرځي اودلکونو شهیدانو وینه هدر لاړه نشي .

پکار دی چې ټول تنظیمونه ژر تر ژره گډ دریځ اوگډ جهادي صف اعلان کړي او په یو آواز دخپل گران هیواد دازادي اوداسلامي حکومت دقیام په خاطر خپل مشترك عملیات اوتبلیغات پیل کړي ، ځکه چې یواځې له همدې لارې کیدای شي

چې دکابل دغیر قانوني حکومت ټول پلانونه شنډ اود افغانستان استقلال اوملي حاکمیت پرځای پاتې شي .

####

قبول اسلام ، محمد علی کلی راباچه آزمایش هایی روبروساخت ؟

خاطرات جالب وحیرت انگیز قهرمان جهانی بوکس

مترجم : احمدضیا ، "رحیمزی"

محمدعلي کلي قهرمان جهاني بوکس که در ده ها مسابقات جهاني حریف خودراشکست داده ، درفبروري ۱۹٦٤ بعدازآنکه حیثیت قهرمان جهاني وزن سنگین دربوکس را داراشد مسلمان بودن خودرا اعلان کرد. اینکه بعداز این اعلان هموطنان امریکایي کلي چه روشي درمقابل وي اتخاذ نمودند باعث حیرت وتعجب همگان است . جامعه ایکه خودرا علمبردارفتوحات ساینسي ومدافع حقوق انساني ، انصاف ومساوات مي خواند بعدازاسلام آوردن محمدعلي کلي تاچه حدازتعصب ،تنگ نظري، بی اصولي وبي انصافي کارمي گیرد. تفصیل آن درسرگذشت این قهرمان جهان ورزش درشماره ماه جولاي مجله اردو دایجست چاپ پاکستان، به نشررسیده ،که ماترجمه آنرابه خوانندگان عزیز شهادت خالي ازدلچسپي نمي دانیم .

(اداره)

اسم قبلي وپیدایشی محمدعلي کلي «کاسیس کلي» بود که بتاریخ ۱۸جنوري ۱۹٤۲ درمنطقه لاوزیل امریکاچشم به جهان گشود. پدرش خطاط ولوحه نویس بود، این خاندان سیاه پوست امریکایي پیرو مذهب عیسوي کاتولیک بود وبرعکس سایر فامیل هاي سیاه پوست امریکاآنهازندگي شرافتمندانه وبااصول داشتند .پدرمحمدعلي کلي بامحنت ومزدوري توانسته بود خودرا ازآزمایش غربت وافلاس نجات دهد، وبه همین دلیل بودکه دورطفولیت محمدعلي برخلاف سایرهم سالان سیاه پوست وي دور ازمحرومي وبي بضاعتي بسررسید. پدرکلي یك شهري باعزت بود وهرگز اقدام به کاري نکرده که باعث زنداني شدنش گردد اوبا اولاد هاي خود محبت مي کردومي خواست آنهاراباتعلیم ساخته و شهریان معزز وشرافتمندي درجامعه ازآنهابسازد .

چنانچه فرزندبزرگش «کاسیس کلي» راشامل مکتب ساخت . ولي کلي بادرس ومکتب چندان علاقه نداشت . او شاگرد شوخ وپرجنجال بود، جاروجنجال وجنگ کردن باهم صنفان ومرعوب ساختن آنهابامشت زني از پسندیده ترین مشاغل وي دردوران مکتب بود. به همین دلیل بودکه هنگامی درسال ۱۹٦۰ دوره تحصیلات متوسطه (لیسه) رابه پایان رساند نمراتش خیلي کم بود .

«کاسیس کلي » ازطفولیت به مشت زني وبوکس علاقه وافر داشت چنانچه وقتي به عمر(۱۲) سالگي رسید، هنگامیکه « جوزف مارتن» یکي ازافسران متقاعد پولیس امریکااین علاقه اورادید، اورا به یك تربیت گاه ورزش بوکس برد، جائیکه «کلي » با حیرت تمام مي دید که دوتن همدیگر رامشت باران مي کنند، وچنان علاقه به این ورزش گرفت که صرف غذاي چاشت رانیز فراموش کرد، وازهمان روز تمرین ورزش بوکس رابه شکل منظم آغازکرد .

هنوزبیش از۱٤ سال نداشت که درمسابقات بوکس لیسه مقام اول را بدست آورد، وهنگامیکه ۱۸ مین سالگره خودرا تجلیل مي کرد دوست سرپرست وي مارتن جوزف اعلان کرد:

